# په ځان باندې باور په

# ۲۰

## ورځوکې



لیکوال: داکتر جمشید « رسا »
ژباړن: اعجاز الحق « صحرایي »

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ځان باندې باور په ۲۰ ورځو کې

لیکوال: داکټر جمشید «رسا»

ژباړن: اعجازالحق «محرابي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکتاب پېژندنه

د کتاب نوم: په ځان باندې باور په ۲۰ ورځو کې

لیکوال: داکټر جمشید "رسا"

ژباړن: اعجازالحق "محرابي"

کتونکی: استاد فرهاد "جلالزی"

کمپیوتري چارې: اعجازالحق "محرابي"

د چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

د اړیکې شمېرې: ۰۷۶۵۹۵۱۵۶۶ -۰۷۹۰۸۵۸۱۳۳

برېښنالیک: ejazulhaqmehrabi۷۸٦@gmail.com

خپرندوی: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

په ځان باندې د باور ارزښت

په ځان باندې د باور ډولونه

د هغو کسانو ځانګړتیاوې چې په ځان باندې لوړ باور لري

د هغو کسانو ځانګړتیاوې چې په ځان باندې ټیټ باور لري

په ځان باندې د باور رامنځته کول او لوړوالی

په ځان باندې د باور رامنځته کولو عملي تمرینونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالۍ**

ټولو هغو ځوانانو ته چې په ځان باندې د لوړ او بریمن باور درلودونکي دي.

په درنښت

اعجازالحق محرابي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دگر آموز

مانند صبا خیز و وزیدن دگر آموز　　　داماں گل و لاله کشیدن دگر آموز
اندر دلک غنچه خزیدن دگر آموز

موبینه به بر کردی و بی ذوق تپیدی　　　آن گونه تپیدی که به جایی نرسید
در انجمن شوق تپیدن دگر آموز

کافر دل آواره دگر باره به او بند　　　برخویش گشا دیده و از غیر فروبند
دیدن دگر آموز و ندیدن دگر آموز

دم چیست پیام است، شنیدی؟ نشنیدي!　　　در خاک تو یک جلوه عام است ندیدی!
دیدن دگر آموز شنیدن دگر آموز

ما چشم عقاب و دل شهباز نداریم　　　چون مرغ سرا لذت پرواز نداریم
ای مرغ سرا خیز و پریدن دگر آموز

تخت جم و دارا سر راهی نفروشند　　　این کوه گران است به کاهی نفروشند
با خون دل خویش خریدن دگر آموز

نالیدی و تقدیر همان بود که بودست　　　آن حلقه زنجیر همان است که بودست
نومید مشو ناله کشیدن دگر آموز

وا سوخته ای؟ یک شرر از داغ جگر گیر　　　یک چند به خود پیچ و نیستان همه درگیر
چون شعله به خاشاک دویدن دگر آموز

اقبال لاهور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سریزه**

به نام خداوند خورشـــید و مــاه
که دل را به نامش خرد داده راه
خداونـــد هستـــی و هم راستـي
نخـواهـد ز تـو کزي و کاستـــي

نه ختمیدونکې مننه له هغه مهربانه خدای څخه چې انسان یې پیدا کړ او د فکر او عمل کولو څواک یې ورکړ. ډېر درود دې وي د بشریت په  ناجي او لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې. لوی اجر دې نصیب شي د هغو کسانو په برخه چې د انسان د راحت او سکون لپاره کار کوي. او سلامونه درنو لوستونکو.

**گرانوملگرو!**

زه تل د انسانانو د مرسته کولو په سوچ کې یم، او خوشبختانه هر کال  د ډېر شمېر ځوانان سره  د خپل جرئت له کبله د تدریس، د کتابونو د لیکنې او د سیمینارو د رامنځته کولو له طریقه مرسته کوم چې زما د خوښۍ لامل گرځي او دا ځل ډېر متفاوته او لوړ احساس لرم او د بدن له ټولو حجرو سره د خوښۍ او سکون احساس کوم په دې خاطر چې د ژوند ډېر اړینه موضوع (ځان پېژندنه) چې دهر انسان د ژغورنې عامل دی، ستاسو چوپړ ته مې وړاندې کړ او دا ځکه چې د هر تعلیمي کال په پای کې وینم چې زرگونه ځوانان سربېره پردې  چې د کانکور د درسي پروگرام په پشپړولو او د هغه  کوښښونو له کبله چې دوی یې ترسره کوي بیاهم په خپل ځان باندې د باور او اعتماد په نه درلودلو سره مل وي چې دا د دوی د پایلو د ټیټوالي او حتی په آزموینه کې د دوی د بې نتیجې کیدلو لامل گرځي او همدارنگه دا موضوع مې د پوهنتون له محصلانو سره هم لیدلې چې د دوی ټولې خبرې په خپل راتلونکي ژوند، د نه باور درلودلو په هکله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هو ګرانو ملګرو!**

دا ستونزه زموږ په ټولنه کې عمومیت لري؛ نه یوازې متعلمین او محصلین؛ بلکه ډېری خلک د پرېکړې په وخت کې دوه زړه وي او په عامه ځایونو کې د ګډون او د ویناوې کولو وېره لري؛ په غونډو کې خپل لاس او پښې ورکوي او د تلویزیون د کمرې پر وړاندې یې ژبه بندیږي او ... نو ما د دغې ستونزې د حل لپاره د ګټورو لارو په ښوونه باندې او د سیمنارونو په رامنځته کولو سلګونه ځوانان د بریالیتوب پر مخ کې له شته خنډونو څخه خلاص کړي او نن به تاسو ته د هغو ډېرې غوره لارې وړاندې کړم.

خوشبختانه په ځان باندې د باور د رامنځته کولو په هکله عالمانو ډېر څه لیکلي دي؛ خو ما د نوي کتاب لیکنه په دې برخه کې دا ده چې د خپلو لیکنو او د تدریس د تجاربو په پام کې نیولو سره، ډېر ساده او عملي لارو څخه په دې کتاب کې کار اخیستی دی چې د هغو مطالعه آسانه او د بشپړ په ځان باندې باور د لاسته راوړلو لامل ګرځي.

دا کتاب ماخوذ دی: د قرآن کریم د تفسیر، د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث، د دین د مشرانو له خبرو، د علماوو له نظریاتو، د عارفو او لویو شاعرانو، د داکټر آزمندیان د لیکلي کتاب تکنالوژي فکر څخه، د داکتر باربارادی آنجلس دکتاب اعتماد په نفس، د مجتبی حواري له کتاب اعتماد په نفس په ۳۰ ورځو کې، د داکټر ناتانیل له کتاب څنګه په خپل ځان باندې باور ته وده ورکړو او د لسګونو نورو کتابونو سربېره له خپلو تجاربو مې دا کتاب ترتیب کړی چې په بشپړه توګه عملي او ګټور کتاب دی.

که څه هم د کتاب د ترتیب په وخت کې مې د داسو تکتیکونو څخه ګټه اخیستې ده چې د هغو په مطالعې سره به مو حتماً په ځان باندې باور لوړ شي؛ اما ددې په پار چې لوړه نتیجه واخلئ تاسو ته دا سپارښتنه کوم چې هر یو اصل یې د یوې ورځې په جریان کې په عملي توګه ترسره کړئ. لکه څرنګه چې د توماس هنري هاکسلي په نامه یؤ عالم وایي: د ژوند عظمت په علم کې ندی، بلکه په عمل کې دی.

باید یادونه وکړم چې ډېر خوشحاله یم چې ستاسو ګرانو سره مې د دغې کتاب له طریقه اړیکه نیولې ده او د بریالیتوب په لور په سفر کې ستاسو سره یم او هیله مند یم چې یوه ورځ ستاسو سره له نږدې ووینم او ستاسو د بریالیتوب شاهد واوسم.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یاَیّتُهَا النَّفسُ المُطمَئِنَّةُ ارجِعی الی رَبِک رَاضِیَةً مّرضِیّةً فَادخُلِي فِی عبَدِی وَ ادخُلِي جَنَّتِی. (الفجر: ۳۰)**

**ژباړه:** ای اطمینان نیوونکیه نفسه! ته ورګرځه خپل رب ته، په داسې حال کې چې خوشحاله او راضي کړای شوی به یې. نو ته زما په بندګانو کې داخل شه. او زما جنت ته ننوځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته معشوقه پټه په زړه کې دې
ستـــرګې که لرې راشه دروېښيم

اقبال لاهوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ځان باندې د باور ارزښت

په ځان باندې باور د هر انسان په ځان کې په هر ډول چې خپله فکر او تصور کوي په کارونو او ورځنيو دندو کې، په مينه کې، د يؤ پلار او مور په توګه، په آزموينو کې برياليتوب... په کلکه او باور سره وړاندې کيږي.

په ځان باندې باور د ژوند په اوږدو کې د برياليتوبونو په لور لومړنى ګامځاى دى.

په ځان باندې باور د شجاعت او د بدن د ځواک برخه ده.

په ځان باندې باور په انسان کې قاطعيت رامنځته کوي، انسان ته ښايست ورکوي او همدارنګه يو انسان ته د نورو انسانانو په پرتله توپير ورکوي.

په ځان باندې باور د انسانانو د ودې او لوړوالي لامل ګرځي.

په ځان باندې باور هغه ځواک دى چې د هرچا په وجود کې وي.

په ځان باندې باور؛ يعنې مينه او وړتياوې د هغو شيانو د پيداکولو لپاره چې په ژوند کې ورته اړتيا لرو.

**ګرانه ملګريه!**

په ځان باندې باور د دې لامل کيږي ترڅو ځان، الله (جل جلاله) او نور انسانان په ښه توګه وپيژنو او ورسره ښې صميمانه اړيکې وتړو، لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ( **مَن عَرَفَ نَفسَه فَقد عَرَفَ رَبَه** ) هغه چا چې ځان وپيژندلو، الله يې وپيژندلو.

حضرت علي كرم الله وجهه فرمايلي دي: **(اَفضَلُ العَقلِ مَعرِفه الانسان نَفسَه فَمَن عَرَفَ نَفسَه عَقلَ وَ مَن جَهلها ضَلَّ)**

تر ټولو ښه هوښياري ځان پيژندنه ده. چا چې ځان وپيژندو له عقل څخه يې ګټه پورته کړې، او هغه چا چې ځان ونه پيژندو د ګمراهۍ خواته روان دى.

او همدارنګه حضرت علي كرم الله وجهه فرمايي: ( **اَفضَلُ الحكمه مَعرِفَهُ الاِنسان نَفسَهُ)** ترټولو لوړ علم، هغه د ځان پيژندنه ده.

د برياليتوب لاسته لاوړل پرته په ځان باندې د باور د لاسته راوړلو څخه په كلكه په دې محكومول دي چې ياد كس خپل ځان د يو دوه مخي او دوكه باز په توګه احساس كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول کس په لېوالتیا سره د دې انتظار کوي ترڅو د نورو د پام وړ وګرځي او دا چې په ځان باندې باور نه لري فلهذا د نورو تحسین او ستاینه د ده لپاره د ځان عزت رامنځته کوي؛ نو نه مالومات، نه مهارت، نه مال او مکنت، نه کوژده، نه د اولاد خاوند کېدل او نه د خیریه کارونه، هیڅ یؤ به دې لوړوالي و بریالیتوب ته  و نه رسوي.

نو زموږ ټولې نېکمرغۍ زموږ په وجود کې نغښتې دي لکه څرنګه چې اقبال لاهوري وايي:

تو شمشیر ز کام خـــــــود بیرون آ

بیرون آ از نیام خـــــــود بیرون آ

نقاب از ممکنات خـــــــویش برگیر

مه و خــــورشید او انجم را به برگیر

شب خــــود روشن از نور یقین کن

ید بیضا بیرون از آستین کــــــــن

کس کاو دیده را بردل گشوده است

شــراری کشت و پروینی درود است

شـــــــراری جسته ای گیر از درونـم

که من مانند رومی گـــــرم  خونم

و گـــــــــرنه آتش از تهذیب نو گیر

بـــــــرون خود بیفروز اندرون میر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځان باندې باور یعنې خپل ځان ته د یو ځواکمن، باکفایت، مینه لرونکي او په ځان باندې د متکي کس په توګه کتل.
په بل تعبیر سره په ځان باندې باور یعنې دهغو وړتیاوو او نیمګړتیاوو احساس او پېژندګلوي چې د خپل وجود په داخل او بهر کې یې لری.
په ځان باندې ریښتینی باور ستاسو په خپل وجود کې تل تولیدیږي.
ستاسو په ځان باندې باور ستاسو د خپل هوډ زیږیدونکی، ستاسو لپاره دی.
دغه هوډ به هرڅه ته چې اړتیا وي، ترسره کوي به یې ترڅو خپلو غوښتنو او اړتیاوو ته ورسېږي.
په ځان باندې باور ستاسو شخصي باور نسبت ستاسو خپل روح ته د یو انسان په توګه دی.

## په ځان باندې د باور ډولونه

په ځان باندې باور په درې ډوله دی: چې عبارت دی له  په ځان باندې رفتاري باور، په ځان باندې  احساسي او عاطفي باور او په ځان باندې روحي او معنوي باور.
د دې لپاره چې اړین شخصي واک لاسته راوړی او هغه رضایت او غنامندي چې غوښتونکي یئ تجربه یې کړئ پورتني درې واړه په ځان باندې باورونو ته اړتیا لري.

- په ځان باندې رفتاري باور، دا د کارونو  په ترسره کولو او عمل کولو کې د ځواک او وړتیاوو په معنی دی. د ساده کارونو څخه نیولې تر ستونزمنو کارونو پورې لکه خپلو هیلو ته د عمل جامه وراغوستل؛ دا هغه ډول په ځان باندې باور دی چې زموږ د اکثرو د پام وړ دی.
- په ځان باندې احساسي او عاطفي باور، په خپل احساسي او عواطفي نړۍ باندې د ولکې او کنترول درلودلو ځواک په معنی دی. دا چې وپوهیږئ چې څه احساسات لری، د هغو په مانا باندې پوه شئ او وکولای شئ چې ښه سم احساساتي انتخاب  وکړئ او همدارنګه وکولای شئ د خپل ځان دفاع د روح د  درد او رنج او د عاطفي ستونزو څخه وساتئ او وپوهیږئ څنګه صمیمي، روغې او تل پاتې  اړیکې رامنځته کولای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ دریم ډول په ځان باندې باور چې تر ټولو هغو اړین دی، په ځان باندې روحي او معنوي باور دی. دا ډول په ځان باندې باور ستاسو هغه باور او ایمان په هستي نړۍ او او په ټولو مخلوقاتو او موجوداتو باندې دی. دا ډول روحي باور او ایمان هغه دی چې ډېر مثبت  ژوند او هدف پکې شاملیږي.

په ځان باندې باور په دې معنی چې په دې باور ولرې چې ددې  ځواک او وړتیا لرې چې خپل ټول ځواک پکار واچوې او د خپل ژوند شرایط او حالت ته هغه ډول بدلون ورکړئ چې څنگه یې غواړئ.

په ځان باندې باور: زموږ په خپل ځان باندې د باورونو او احساساتو ټولگه ده. دا چې موږ د خپل شخصیت څخه څه ډول تعریف وکړو، زموږ آندونه، لیدلوري او رفتارونه تر تاثیر لاندې راولي او همدارنگه زموږ په عاطفي جوړجاړي باندې هم اغېز لري.

## د هغو کسانو ځانگړتیاوې چې په ځان باندې لوړ باور لري.

هغه کس چې په ځان باندې لوړ عزت لري د لاندې ځانگرتیاوو درلودونکی دی:

- ❖ خپلواک عمل کوي: په بیلابیلو مسائلو کې لکه: د وخت په استفادې، پیسې، کسب، زده کړو، کالي او داسې نورو کې خپله  پریکړه او ټاکنه کوي.
- ❖ مسؤلیت منونکی دی: چټک او په اطمینان سره عمل کوي. ځینې وخت د کور د کارونو مسؤلیت په غاړه اخلي او حتی د نویو کارونو د موقعیت په لټه کې وي او پرته له دې چې د ده نه وغوښتل شي، د نورو سره مرسته کوي.
- ❖ په خپلو پرمختگونو باندې ویاړ کوي: کله چې د پرمختگونو څخه یې تعریف کیږي په خوشالي سره یې مني او له دې اړخه د رضایت احساس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د نویو خنډونو په وړاندې په کلک هوډ سره مخامخ کیږي: ناآشنا کسبونه، زده کړي، او نوي فعالیتونه یې پام راخپلوي. په اطمینان سره او د خپل وجود په انرژۍ باندې په تکیه کولو سره، خپل ځان په هغو کې ښکیلوي.
- د خپل تعجب او احساساتو پراخه لمن ښکاره کوي: کولای شي په زوره وخاندي، موسکا وکړي، چیغې ووهي او وژاړي. په ناڅاپي توګه، خپله مینه او په ټوله مانا خپل طبیعي حیرانتیا ښکاره کوي پرته له دې چې د هغو له ښکاریدو څخه وشرمیږي.
- ناکامي په ښه توګه زغمي: کله چې له ناکامي سره مخامخ کیږي، کولای شي ډول ډول عکس العملونه د هغو په وړاندې وښایي، په ځان باندې خندیدل او په لوړ آواز باندې خبرې کول او ... له خپله ځانه ښایي او د دې ځواک لري د هغه څه نه خبرې وکړي کوم څه چې د ده د ناکامۍ لامل شوی دی او هغه د یو تجربې په توګه ومني.
- کولای شي ځان محاکمه کړي: په پوره جرآت سره ځینې وخت خپل ځان محکمې ته وړي او په خپلو غلطیو او ناوړه کارونو باندې اعتراف کوي؛ پرته له دې چې د ضعف احساس وکړي، دا ځکه چې پوهیږي په ګناه باندې اقرار کول د ګناهونو د دفعې لپاره لومړی قدم او د ګناهونو څخه انکار کومه پایله نه لري پرته د هغو د تکرار څخه.
- د نورو لپاره ګټور وي: دا احساس کوي چې کولای شي نور خلک تر اغېز لاندې راولي او هغه نفوذ څخه چې د کورنۍ په غړیو او ملګرو باندې لري مطمئن دی او پوهیږي چې د خپل وجود د ځانګړتیاوو له کبله نور خلک تر اغېز لاندې راولي او یو لړ نورې ځانګړتیاوې چې په راتلونکي پاڼو کې به مطالعه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هغو کسانو ځانګړتیاوې چې په ځان باندې ټیټ باور لري.

دا ډول خلک په خپل ژوند کې د ډېرو ستونزو سره مخامخ کیږي، هغوی له هرڅه نه ګوښه کیږي او د ژوند خوند له لاسه ورکوي، که تاسو هم فکر کوئ چې د داسې ځانګړتیاوو درلودونکي یی نو اړین دی چې د هغو د لرې کولو لپاره کوښښ وکړئ.

- د ټولنې څخه ډاریږي او د هغو څخه لرې اوسیږي.
- له خپل ځانه نفرت لري.
- نسبت خپل ځان ته په انصاف رویه نه کوي.
- ډار په آسانۍ پرې مسلط کیږي.
- تل منفي سوچونه کوي؛
- د پریکړې نیولو ځواک نلري؛
- تل انتقاد کوي او د ګناه پړه پر نورو وراچوي؛
- تل خپل ځان د خیال او تصور قرباني کوي؛
- حسود وي؛
- په نورو باندې کلک تړلي وي؛
- په ژوند کې هدف نلري؛
- په آسانۍ سره د هغو پریکړو څخه چې نیولې یې وي، ګرځي.
- تل خپل ځان له نورو سره پرتله کوي؛
- په آسانۍ سره د هغو نظریاتو او انتقادونو تر اغېز لاندې ځي کوم چې د دوی د نظرونو خلاف وي.
- د ستونزې د ترسره کولو په پار تل په ډار کې وي.
- خپل ځان ته درناوی نه کوي؛
- د ځان ښودلو ځواک نلري؛
- تل د نورو د ضعف ټکو پسې ګرځي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د بدلونونو څخه ویره لري؛
- ژر کارجنیږي او لاس او ګریوان کیږي؛
- له خپل ژوند څخه خوښ نه وي؛
- په خپلو عقایدو باندې ولاړ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ځان باندې د باور رامنځته کول او لوړول

باید یادونه وشي دا چې په ځان باندې باور، یوه اکتسابي پدیده ده؛ د دې پدیدې لاسته راوړل د تمرین کولو، ریاضت، او برنامه درلودلو په غاړه کې دی. فلهذا هغه ځوک چې په دې کې ځان بې وسه ګڼي، کولای شي چې د علمي لارو په طریقو او د هیلې لرونکې روحیې سره د خپل شخصیت د بدلون لپاره لاس په کار شي.

ګرانو ملګرو!

د یادولو وړ ده چې په ډېره آسانه توګه کولای شئ چې د بشپړ په ځان باندې باور څخه برخمن شئ او همدارنګه د ژوند په ټولو برخو کې په بریالیتوب سره ظاهر شئ او د خوښیو په عالم کې ژوند وکړئ.

نو راځئ د خپل په ځان باندې د باور د رامنځته کولو اود لوړولو لپاره عمل وکړو.

او دا کار په سیستماتیک ډول د دې کتاب په مطالعه کولو سره د الله (جل جلاله) په مرسته په خپل وجود کې ترسره کړو؛ یعنې په دې لړۍ کې اصلي نقش تاسو خپله لرئ لکه ځرنګه چې رهي معیري وایي:

چشم فروبسته اگـــــــــر واکنی

در تو بود هر چه تمنـــــــــا کنی

عافیت از غـــیر نصیب تو نیست

غیر تو ای خسته طبیب تو نیست

از تو بود راحت و بیمـــــــــار تو

نیست به غیر از تو پرستـــــــار تو

همدم خود شو که حبیب خـودی

چاره خود کن که طبیب خـودی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغې اړینه پېژندنه د انسان یو له ارزښتناک لامل څخه د انسان خپله پېژندنه نسبت خپل وجودي ارزښت، استعداد او وړتیاوو ته دی او څومره به شایسته وي چې دا پېژندنه د خپل الله (جل جلاله) څخه وغواړي او لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) په قرآن کې فرمايي: ما د خپل روح څخه په انسان کې واچوله او همدارنګه پرښتو ته مې د آدم ع لپاره د سجدې فرمان ورکړو او مې انسان په ځمکه کې خپل ځايناستی وګرځول.

مسلمان انسان په فکر او تدبير سره په دې آيتونو باندې په ښه توګه دا پيدا کوي چې کوم مقام دالله (جل جلاله) په وړاندې او کوم مقام د نورو بې حسابه مخلوقاتو په منځ کې لري او د الله (جل جلاله) په الطاف باندې پوه شوی او پوهيږي چې الله (جل جلاله) څومره له هغه سره مينه لري، او دی به هم خپل زړه د الله (جل جلاله) له مينې څخه ډک کړي او دا ارزښتناکه اړيکه د هغو څواک زياتوي چې د الله (جل جلاله) نه پرته له هيچا څخه به ډار نه لري او په دې به باور پيدا کړي چې يو لوی مل کونکی لري چې په ټولو برخو کې کولای شي په هغه باندې تکيه وکړي او د هر کار له ستونزې او لوی کار څخه ځان را خلاصولای شي او دالله (جل جلاله) له طرفه په ځان باندې باور څخه اخيستل شوی باور ته ورسيږي. انسان د الله (جل جلاله) شايسته آئينه او څواک دی او هر کار چې وغواړي ترسره کوي يې لکه څرنګه چې مولانا فرمايي:

ای نسخه نامه الــــــــــــــهی که تويی

وی آئينه جمال شـــــــــــاهی که تويی

بيرون ز تو نيست آنچه در عــــــالم است

از خود بطلب هر آنچه خواهی که تويی

انسان د فکر او شعور په درلودلو سره اشرف المخلوقات دی او د ډېر لوړ ځای څخه برخمن دی لکه څنګه چې اقبال لاهوري وايي:

برتر از ګردون مقام آدم است

اصل تهذيب احترام آدم است

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدارنګه الله (جل جلاله) انسان ته زیری ورکوي چې زه تاته د غاړې د رګ څخه هم نږدې یم او هرڅه چې له ما وغواړې، درکوم یې.

**ګرانه ملګریه!**

ستا ارزښت د هغه نه لوړ دی هومره چې فکر کوې او په دې خاطر چې خپل باورونه دې حقیقت ومومي د الله (جل جلاله) خبرو ته پام وکړه:

الله ((جل جلاله)) انسان د خپل خلیفه په توګه د ځمکې په سر وټاکو.

**( وَ اذ قَالَ رَبّکَ لِلمَلائکَةِ اني جَاعِلُ فِي الأَرضِ خَلیفَةً)**

لکه څنګه چې اقبال لاهوري په دې هکله وایي:

در دو عالم هر کجا آثـــــــار عشق

ابن آدم سری از اســــــــرار عشق

سر عشق از عالم ارحـــــــام نیست

او ز سام و حام و روم و شام نیست

کوکب بی شرق و غرب و بـی غروب

در مدارش نی شمال و نــــی جنوب

حرف انی جــــــــــاعل تقدیر او

از زمین تا آسمـــــــــــان تفسیر او

الله (جل جلاله) ټول هغه څه چې په آسمان او ځمکه کې دي د انسان په ولکه کې یې ورکړي دي.

**(وَ سَخَّرَ لَکُم مّا فِي السّموات وَ مَا فِي الأَرضِ جَمِیعًا مِنهُ انَّ فِي ذَالکَ لَایت لِقَومِ یَتَفَکَّرُونَ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ((جل جلاله)) د ځمکې په سر ټول موجودات د انسان لپاره پیدا کړي دي.

**( هُوَالَّذی خَلَقَ لَکُم مَّا فيِ الأرضِ جَمیعًا ثُمّ استَوَی الَی السّمَاء فَسَوّاهُنَّ سَبعَ سَمَواتِ وَ هُوَ بِکُلِ شَیء عَلِیمٌ)**

الله (جل جلاله) انسان په بهترین مقام او تر ټولو په غوره شکل او صورت باندې پیدا کړی دی.

**(لَقَد خَلَقنَا الانسنَ فيِ أحسَنِ تَقوِیمِ )**

الله (جل جلاله) ملائکو ته د انسان لپاره سجدې کولو امر کړی دی.

**( وَلَقَد خَلَقنکُم ثُمّ صَوّرنکُم ثُمّ قُلنَا لِلمَلائکَةِ اسجُدُو الِادَمَ فَسَجَدُو الَا ابلِیسَ لَم یَکُن مِنَ السّجِدِینَ. الاعراف: ۱۱)**

**ګرانه او ښاغلیه ملګریه!**

کله چې الله (جل جلاله) ستا سره دومره مینه لري ته نه باید خپل ځان ته بې باوري، بې شخصیتي، ناهیلي، فقر، ناتواني، غمګیني پریږدې او لاره ورنکړې ځکه ستا مقام، منزلت او ځواک ډېر ارزښت لري.

## په ځان باندې د باور د رامنځته کولو عملي تمرینونه

اوس چې په دې ټول عظمت باندې پوه شوې او په خپل مقام باندې په دې نړۍ کې پوه شوې نو په عملي تمرینونو باندې پیل کوو چې هر یو یې په ځان باندې د باور لپاره اساسي پایه ده او ستاسو د باورونو نظام جوړوي. دا تمرینونه د هغو روشونو د ترسره کولو ځخه دي چې د پوهانو لخوا طراحي شوي دي چې باید په دوامداره او مکرر توګه ترسره شي؛ نو تاسو ته سپارښتنه کوم چې هر روش او طریقه په یو کاغذ باندې ولیکئ او د خپل اتاق په دروازه یا د کار په ځای کې، آئینه او یا هرچیرې چې یاستی (سروکار) لری ولګوئ ترڅو چې هره ورځ مو په هغه باندې سترګې ولګیږي چې له یوې خوا مو لاشعور ضمیر دهغو د ترسره کولو لپاره آماده وي او له بلې خوا یې د ورځې په جریان کې خپله ترسره کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- تل الله (جل جلاله) یاد لرئ او دهغه ذات په قدرت او مدد باندې باور ولرئ او په هرځای کې هغه حاضر وګڼئ.**



دا هیله مه کوئ چې الله (جل جلاله) د هرځای څخه پرته بل چیرې ومومئ.

(ناتانیل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی الله (جل جلاله) د انسان لپاره ترټولو کلک او با ثباته، ملاتړ دی.

هغه انسان چې په الله (جل جلاله) باندې توکل او د هغه ذات په مدد او مرسته باندې عقیده ولري په آرامه، سکون او په ځان باندې د باور سره به ژوند کوي.

**(الا بذکرالله تطمئن القلوب. وَ مَن اَعرَضَ عَن ذِکرِی فَاِنَّ لَهُ مَعِیشَةً ضَنکًا.)** ای انسانانو د الله (جل جلاله) په ذکر سره زړونه سکون پیدا کوي. څوک چې د الله (جل جلاله) څخه مخ واړوي ژوند ورته سختیږي.

الله (جل جلاله) خپل پاک او مطمئن بنده له هر ډول ضرر څخه ساتي او له هغه څخه دفاع کوي. **(انَّ اللهَ یُدَافِعُ عَنِ الَّذِینَ ءَامَنُو)** الله (جل جلاله) د هغو کسانو دفاع کوي کوم چې په هغه باندې یې ایمان راوړی وي.

تل د الله (جل جلاله) څخه دا غوښتنه وکړئ چې ستاسو په ځان باندې باور لوړ کړي.

لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) فرمايي: **(مَن کَانَ یُرِیدُ العِزَّةَ فَلِلَّه العِزَّةُ جَمیعًا اِلَیه یَصعَدُ الکَلِمُ الطَّیِبُ وَالعَمَلُ والصَّالِحُ یَرفَعُه وَالَّذِینَ یَمکُرُونَ السَّیِاتِ لَهُم عَذَابٌ شَدِید. الفاطر: ۱۰)**

ژباړه: هر هغه څوک چې هغه عزت غواړي، نو خاص الله ته دی ټول عزت، همدغه الله ته پاکیزه خبرې پورته خېژي او نېک عمل دغه (کلمات) پورته کوي او هغه کسان چې ناکاره (بد) مکرونه جوړوي، د دوی لپاره ډېر سخت عذاب دی.

نو هر شیبه په خپل ذهن کې په داسې بڼکلې احساس ژوند وکړه چې الله (جل جلاله) تل له تا سره وو او دی له تاسو سره مرسته او مدد کوي او په مرسته باندې یې توکل وکړه ځکه چې پاک احساس او فکر، ښه روحیه، باور او ستاسو لپاره په ځان باندې باور جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- په هوښیارې سره ژوند وکړئ او خپل افکار کنترول کړئ.



انسان په بهر کې تل هغه څه حاصلوي چې په خپل افکارو کې یې کرلي وي.

(فلورانس اسکاول شین)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر شپېه له خپل ځانه خبر اوسئ او خپل لاشعور ضمیر ته ووایئ چې بدلون مو کړی او په ځان باندې د بشپړ باور درلودونکی یې نو ددې هدف لپاره لاندې جملې تل تکراروئ.

- ❖ زه په الله (جل جلاله) باندې توکل لرم.
- ❖ الله (جل جلاله) تل له مانه ساتنه کوي.
- ❖ الله (جل جلاله) تل له ماسره دی ځکه نو د هیڅ شي نه ډار نه لرم.
- ❖ زه په ځان باندې عالي او لوړ باور لرم.
- ❖ زه عالي او با شخصیت انسان یم.
- ❖ زه د وړتیا او ښکلا درلودونکی یم.

منفي باورونه له ځانه لرې کړئ او ځان ته یې مه پرېږدئ. تل په خپل ذهن او فکر کې مثبت باورونه رامنځته کړئ او هیله مند ووسئ چې ښه ژوند ستاسو په تمه دی؛ لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علی وسلم فرمایي: **(الامل حمه لامتی و لولا ما رضعت والده ولدها. ولا غرس غارس شجرا.)**

ژباړه: هیله، زما د امت لپاره رحمت ده که هیله نه وای هیڅ مور به خپل اولاد ته شېدې نه ورکولې او هیچا به کومه ونه، نه کښت کوله.

همدارنګه حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي: الأمل رفیق مونس. ژباړه: هیله هغه ملګری دی چې د انسان د اُنس او سکون لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- تېر ښه خاطرات مو په یاد راولئ او له خپل ځانه ښه احساس ولرئ.



دا زموږ ذهن دی چې موږ خوشحاله، خفه، خوشبخت یا بدبخت، غني یا فقیر جوړوي.

(دموند سپنسر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانه ملګریه! تل له ځانه پوښتنه وکړه چې کوم ښه کارونه دې ترسره کړي دي چې د هغو د خواب د پيدا کولو په پايله کې په خپلو ښو خاطراتو کې ډوب کيږې او خپلې وړتياوې، زړورتوب، ښکلاوې مو په ياد راځي چې هر يؤ يې ستاسو په ځان باندې باور رامنځته کوي.

همدا اوس خپل ښه خاطرات وليکه.

۱- ..........................................

۲- ..........................................

۳- ..........................................

۴- ..........................................

۵- ..........................................  دوام ورکړئ.

سعادت يعنې په تير باندې وياړ کول، د اوس لپاره کوښښ او د راتلونکي لپاره هيله.

همدا اوس پنځه هغه برياليتوبونه چې په تېر کې مو ترلاسه کړي دي وليکئ.

۱- ..............................................

۲- ..............................................

۳- ..............................................

۴- ..............................................

۵- ..............................................

لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) فرمايي: **(كُلُّ نَفسِ بِمَا كَسَبَت رَهِينَةٌ.)** ژباړه: هر نفس به د خپلو کړو په بدل کې ګانه (ګرو) وي.

هيله ده تل د وړتيا، ښکلا، شخصيت او کمال احساس وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- ځان سره مینه وکړئ.



په مینې سره کولای شو هغه ډول ووینو چې تراوسه مو نه وي لیدلي.

(لئو بوسکالیا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځان باندې د باور اساسي شرط ځان غوښتنه ده او تر ټولو لويه موانع يې ځان ماتول ده. ددې لپاره چې په ځان باندې باور ولرو بايد خود غرضه ووسئ. بايد له خپل ځان او روح سره مينه ولرو خود غرضي ته د رسيدو لپاره بايد په بشپړه توګه له خپله ځانه شناخت او درک ولرو. د ځان غوښتنې لپاره همدا بس ده چې پوه شئ چې انسانان يئ، اشرف المخلوقات يئ، تجلي د کاينات يئ، د الله (جل جلاله) شاهکار يئ ددې ټولو مخلوقاتو: جماد، نبات، ځان لرونکي او بې جان په منځ کې، تاسو د انسان کيدلو وړتيا پيدا کړې ده او د الله برترين موهبت؛ يعنې قدرت، اراده، اختيار او فوق العاده ذهني وړتياوې تاسو ته درکړل شوي دي.

تاسو په دې ټوله نړۍ باندې ولکه لرئ، تاسو د خلاقيت او نوښت ځواک لرئ، تاسو کولای شئ بدلون وکړی او په يوه نوې بنه؛ نړۍ ته وګورئ او دا مينه په حقيقت کې د الهي مينې لپاره پيلامه ده.

کله چې د ځان نه ستړي ووسو، دا په دې معنی ده چې له ټولو ستړي ووسو، او کله چې له ځان سره مينه ولرو دا په دې معنی چې نړۍ هم زموږ په سترګو کې مينه ناکه ښکاري.

همدا اوس د هندارې مخې ته لاړ شئ، ځان ته په مينه ناکه بڼه وګورئ او د زړه له تله ځان ته ووايئ:

۱. زه تا سره مينه لرم ځکه ته له پرښتو هم غوره يې.
۲. زه تا سره مينه لرم ځکه ته د الله ((جل جلاله)) له غوره مخلوقاتو څخه يې.
۳. زه تاسره مينه لرم ځکه ته د کائناتو ظهور يې.
٤. زه تا سره مينه لرم ځکه د الله ((جل جلاله)) روح په تاکې جاري دی.

شعر نثر ته:

کـــــــــــــــــــــمال ته په مينه وګورئ، نه په نيمګړتيا او ګناه
دا ځکه چې که څوک له هنر څخه ووځي نو نيمګړتياوو ته به ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یؤ قدسي حدیث کې راغلي دي چې الله ((جل جلاله)) فرمايي:

**(خلقت الاشيا لاجلک و خلقتک لاجلی)** ما هرڅه ستا لپاره پیدا کړل او ته مې، د ځان لپاره.

د الله ((جل جلاله)) دغې امر ته په کتو سره هر څه یې زموږ لپاره پیدا کړي، او زموږ لپاره په ځان باندې باور راکوي.

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

۱. هره ورځ په ځان باندې ډېر باور کوم.
۲. زه یؤ انگیزه لرونکی انسان او په شخص پورې تړلی یم.
۳. زه مطمئن، آرام او ښاد انسان یم.
٤. په ځان باندې باور مې هره ورځ ډېرېږي.
٥. منځنی څواک او په ځان باندې باور مې، ما سمې لارې ته رهنمايي کوي.
٦. زه خپلو ټولو پاکو هیلو ته د رسیدو وړتیا لرم.
۷. زه ښکلی یم.
۸. زه نېکمرغه یم.
۹. زه څواکمن یم.
۱۰. خیر او خوشالي له ټلورو خواوو زما لور ته راځي.
۱۱. الله (جل جلاله) ماته هدایت کوي ترڅو بریالی شم.
۱۲. زه ژوندی یم، پوه یم، مینن او باور لرم چې ټول خلک زما سره مینه لري.
۱۳. زه په ځان باندې باور لرم چې بریالی کیږم.
۱٤. زه د نویو او د نوښتگرو افکارو خاوند یم.
۱٥. زه په ډېره ښه توگه، خپل فکر او روح مدیریت کوم او د خپل ژوند او کار ترمنځ په خوند اخیستلو کې تعادل راولم.
۱٦. زه تل د بدلون او د نوي پيل په حالت کې یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د خپلو کارونو او مسؤلیتونو مدیریت په غاړه واخلئ.



ما لیدلي دي چې د وګړو د نېکمرغۍ درجه د هغوی له ارادې او غوښتنو سره تړاو لري.

(ابرهام لینکن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار مدیریت او مسؤلیت په غاړه اخیستل په تاسو کې د لویي او ځواکمنتیا حس رامنځ ته کوي او همدارنګه په تاسو کې په ځان باندې باور زیاتوي. په یاد ولرئ چې تاسو د هر کار د ترسره کولو ځواک لرئ؛ ځکه چې د الله ((جل جلاله)) استازي یاستی. هیڅوک، څوک خپل مطلق استازی نه ټاکي، مګر کله چې دده خپل صفات او لیاقت په هغه کې شتون ولري.

الله ((جل جلاله)) فرمایلي دي: (موږ انسان خپل ځان ته ورته پیدا (خلق) کړ.

نو ځکه د الله (جل جلاله) ټول صفات که څه هم نه په ټوله معنی؛ موږ ته یې په امانت راکړي دي.

هغه ورځ چې موږ د انسان په شکل پیدا کړای شوو، خپل د لیاقت وړتیا مو ترلاسه کړه. په دې نړۍ کې هر نعمت او بخشش چې ګورئ، زموږ لپاره پیدا شوي دي او دې موضوع باندې څو ځله په آسماني کتابونو کې ټینګار شوی دی. ( **وَسَخَّرَ لَكُم ما فِي السموات وَ ما فِي الأَرضِ الجاثیه: ۱۳)** ژباړه: او تاسو لپاره یې په کار لګولي دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي.

شعر:

چو موج مست خودی باش و سر به طوفان کش
تو را که گفت که بنشین و پا به دامـــــان کش

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ.

۱. زه ښکلی یم.
۲. زه نېکمرغه یم.
۳. زه ځواکمن یم.
٤. خیر او خوشالي له ځلورو خواوو زما لور ته راځي.
٥. الله (جل جلاله) ماته هدایت کوي ترڅو بریالی شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶. زما خوشالي د الله (جل جلاله) کاردی هیڅوک په هغو کې دخالت نشي کولای. د خوشالي، سلامتیا، ځواکمنتیا او مینې لپاره، ثابت سړی یم.
۷. خیر او صلاح مې همدا اوس هم حقیقت پیدا کوي.
۸. په بدلون سره، خپلو هیلو ته په آسانه رسیدلای شم.
۹. زه مې خپل افکارو ته بدلون ورکوم ترڅو چې خپلې نړۍ ته بدلون ورکړم.
۱۰. زه باور لرم چې الله (جل جلاله) ما هیڅ وخت یوازې نه پریږدي، فلهذا د خپل ژوند د ښیګڼو پسې روان یم.
۱۱. زه مې خپل کوښښ کوم او هرڅه چې د الله ((جل جلاله)) له طرفه ماته ټاکل شوي وي په ټوله مانا سره یې منم.
۱۲. ما د خپل بریالیتوب او قوي کیدلو قاطعیت عامل کشف کړی دی.
۱۳. زما لاشعور ضمیر هر شېبه زما امر ته غوږ دی، نو تل هغو ته د خوشالي او هیله لرونکي پیغامونه لیږم.
۱۴. زه تل هیله بښوونکي او په خوشالي سره خبرې کوم.
۱۵. په موسکا کې لویه انرژي نغښتې ده چې زما مخاطب کس زما په رضایت او خوشالي باندې خبروي او د هغو باور په ناڅاپي توګه راجلبوي.
۱۶. زه تل په خپل ځان او کورنۍ باندې مې ویاړ کوم.
۱۷. زه له خپلې کورنۍ سره مې ډېره مینه لرم.
۱۸. زما ژوند له خوشالي او مینې څخه ډک دی او د ژوند شېبې مې په سکون او مینه سره تیریږي.
۱۹. زه مې خپلې کورنۍ ته  ویاړ یم.
۲۰. زه له نورو سره یؤ ځای کېدلو ته آماده یم.
۲۱. زه کولای شم هره ورځ مې په ځان باندې باور لوړ کړم.
۲۲. زه په خپل ځواک او وړتیاوو باندې مې ایمان لرم.
۲۳. زه د قدرت، سرعت او حرکت احساس کوم.
۲۴. په ځان باندې باور مې د محبوبیت او جذابیت باعث کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶- خپل ځان ته پام وکړئ او ظاهر مو پاک وساتئ.



اخلاق کوم جوړ شوی، حاضر او تيار شی نه دی؛ بلکې ذره ذره او ورځ په ورځ باندې خلق او رامنځته کيږي.

(ارناليل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ته پام کول او د نظافت مراعاتول؛ یعني په ځان باندې باور او ځان ته پاملرنه کول.

زموږ پیامبر صلی الله علیه وسلم تل له ځان سره ږمنځ، هنداره او مسواک لرلو او له عطر څخه به یې استفاده کوله چې دا ټول؛ یعني ځان ته پاملرنه کول.

که څه هم، ښه ظاهریدل په یوه مجموعه کې او همدارنګه ښه او مثبت تاثیر په نورو باندې اېښودل ډېر ښه دی؛ خو ستاسو اصلي او لومړنی هدف به دا وي چې خپل ځان ته پام وکړئ ترڅو چې د ښکلا احساس وکړئ. زموږ په دیني روایاتو کې نظافت د ایمان یوه برخه بولي (الطُّهور شَطرَ الایمان.)

ففلهذا وروسته له دې تل پاک او اوتو کړي کالي واغوندئ، خپل بوټونه رنګ کړئ له عطر نه استفاده وکړئ تر څو چې کولای شئ، ځان ښه سمبال وساتئ دا څکه چې ستاسو ظاهر له تاسو سره او له نورو سره خبرې کوي.

او همدارنګه پوهیږو چې الله (جل جلاله) جمیل دی او جمال او ښکلا یې خوښیږي.

حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي: (الطهر نصف الایمان).

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

۱. زه پاکیزه او ښکلی انسان یم.
۲. زه کلک او متین انسان یم.
۳. زه تل د اسلامي اخلاقو سره ژوند کوم.
٤. زه د الله (جل جلاله) په څواک باندې باور لرم.
٥. زه د کوښښ ترڅنګ د الله (جل جلاله) په ورکړه باندې بشپړ رضایت لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷- په ډار باندې تسلط پیدا کړئ او په یقین سره ژوند وکړئ.



د انسان په ځان باندې باور له دې نه دی چې ځان په شرایطو باندې برلاسی ووینې؛ نه داچې شرایط په ده باندې برلاسي وي.

(انتوني رابنز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځان باندې د باور یوه لویه موانع ډار دی او تر ټولو ښه او موثره لاره په ډار باندې د تسلط اقدام دی.

په روانشناسي کې ډار هغه څه ته وایي چې ترې وډار شی ورته نږدې شی او پکې غرق شی؛ د مثال په توګه: که له تیاره ځای نه ډارېږئ ترڅو چې هغه ځای ته لاړ نشئ، ډار مو له منځه نه ځي. په هغه څه کې چې په ځان باندې دقیقا باور نه لرئ په خپل ذهن کې یې پیدا کړئ او د حل لپاره یې ژر لاس پکار شئ.

د کارونو او نورو مسایلو پر وړاندې وړتیا وښایئ او خپل ځان د ژوند په مسایلو او پیښو کې مه عاجزه کوئ.

تل د ژوند د مسایلو د حل لپاره د وړتیا احساس ولرئ او په الله (جل جلاله) باندې توکل وکړئ؛ څکه چې الله (جل جلاله) فرمایي:

**(انَّ اللّٰهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا) الله** (جل جلاله) د هغو کسانو دفاع کوي چې ایمان یې راوړی وي.

د عمل د فتح لپاره په الله (جل جلاله) توکـــــل وکړئ
چې د هر هدف غشی په لېندۍ باندې تکیه کوي

بې شکه ښه انسان خپل ځان د الله (جل جلاله) بنده بولي او په سختیو کې ځان نه ورکوي.

هرڅوک چې د الله (جل جلاله) په لطف باندې توکل وکړي که د ټول عالَم غم هم په ده باندې وي، زغمي یې له اور څخه مه داریږه کله چې د خلیل غوندې توکل ولرې چې په توکل باندې یې د نمرود اور هم ګل ګرځي.

د ژوند په برخلیک کې د جبر انتخاب نشته هرڅوک د خپل فکر په اساس د تکامل لیدنه کوي د ژوند په څمکه کې د خپل حق څخه ترې غافل یو که نه زموږ د پښو لاندې به سل چشمې به قل قل کوي.

نو همدا اوس هغه کارونه چې تل به دې یې د ترسره کولو هیله درلوده؛ اما د ډار او دوه زړه توب له کبله دې ندي ترسره کړي، په هکله یې فکر وکړه او د ترسره کولو پرېکړه یې ونیسه.

**(فَاِذَا عَزَمتَ فَتَوَكَّل عَلَى الله )** کله چې دې پریکړه ونیوه نو په الله توکل وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلهذا تل په ځان باندې لوړ اعتماد وکړئ او پوه شئ چې پریکړه او انتخاب مو اړین دي.
هیڅکله هم د نورو په تمه مه اوسئ او دا تاسو یاستی چې هوډ مو کړی او په بریالیتوب او په ټینګې ارادې سره یې ترسره کوی.
تل بشپړ یقین ولـــــرئ، دا ځـــــکه چې د یقین نړۍ د باورونـــو ارادو، پریکړو، اقدامونو، بریالیتوبونو، کوښښونو او د سکون نړۍ ده.
دا زړه دې چې ماته راکړی، د یقین څخه یې ډک کړه ترڅو چې د نړۍ دا جام له دې څخه روښانه ووینم.
مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

۱. د خپل ضعف په پیدا کولو سره د خپل ځان د پرمختګ وخت پیدا کوم.
۲. تل د سکون او بریالیتوب څپه مې د خپل ځان په سر او پښو کې جریان لري.
۳. زه تل د خپل سعادت لپاره ښې لارې چارې او ښه فکرونه را پیدا کوم، حال داچې ډېر آرام او په انرژۍ سره یم.
٤. زه له ځان سره مینه لرم او ځان ته مینه ورکوم.
۵. زه د انسانانو جاذب یم.
٦. زه ژوندی، پوه اومینه ناک یم او باور لرم چې ټول خلک له ما سره مینه لري.
۷. زه په ځان باندې باور لرم چې بریالی کیږم به.
۸. زه د نویو او نوښتګرو افکارو خاوند یم.
۹. زه په ښه توګه، خپل فکر او روح مدیریت او هدایت کوم او د کارونو، ژوند او لذت وړلو ترمنځ تعادل رامنځ ته کوم.
۱۰. زه تل د بدلون او د نوي پیل په حالت کې یم.
۱۱. زه ښه درس وایم.
۱۲. زه درسي مطالب په ښه توګه درک کوم.
۱۳. زه درسي مطالب ښه حفظ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸- ځان مه ملامتوئ.



په تېر باندې افسوس مه خوره چې بیا ځلې به تاوان وکړې.

(فیخته)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گناه د عکس العمل احساس چې د ځان د باور په وژلو کې اصلي نقش لري هغه د ملامتیا څخه عبارت دی. باید پوه شئ چې د خطا د جبران لپاره په ځانگړې توگه وروسته د ترسره کولو څخه لوړه روحیه او عالي روحیه پکار ده، سمدستي ځان ملامتول د ځان ماتونې یو رفتار دی.

هره خطا مو چې ترسره کړې ده ځان ته ووایئ، په هره بیه چې کیږي جبرانوم یې، پرته له دې چې ځان ملامت کړم.

کله چې خطا درنه ترسره کیږي له ځان سره نرم چلند وکړئ او خطا ځان ته رایاده کړئ او په آرامه د هغو د جبران لپاره کار وکړئ او دا خطا د تجربې د ترلاسه کولو په پار ومنئ.

ځان ته طعنه ورکول او ملامتول خپله یو تند او نا ملایم چلند دی؛ حتی غصه خوړل، غذایي اعتصاب او په قهریدل او... دا د تندو چلندونو څخه دي.

که له چا سره کلکه مینه لرئ او ستاسو په وړاندې خطا وکړي، هیڅکله به هم له هغو سره په خشونت رفتار ونکړئ، اوس نو چې له ځان سره هم مینه لرئ او د ځان غوښتنې مرحلې ته هم رسیدلي یئ، باید ځان ته اجازه ورنکړئ چې له خپل ځان سره تېز چلند وکړئ.

او همدارنگه نور مه ملامتوئ ځکه د یو کُلي اصل په توگه، ستاسو د سلوک انعکاس له نورو سره بیرته ستاسو خواته در گرځي. د بعضو له قوله هر روښنایي د بیرته گرځیدو حالت له ځانه سره لري. یا د نیوتن دریم قانون چې وایي د هر عمل لپاره عکس العمل شته، مساوي خو مختلف الجهت.

که نور ډېر ملامت کړئ په همدغه اندازه به د نورو لخوا ملامت کیږئ. که تل په نورو انتقاد وکړئ نور به هم په تاسو انتقاد کوي او هیر مو نشي نړۍ زموږ د اعمالو د بیرته راگرځیدو ځانگړتیا لري. که غواړئ په ځان باندې باور ته مو ضرر ونه رسیږي د نورو په ځان باندې باور ته ضرر مه رسوئ.

فلهذا تاسو به هیڅکله هم ځان او نور ملامت نکړئ داځکه چې په دې عمل سره به هم تاسو ته او هم نورو ته به ضرر وي. مهرباني وکړئ نور ملامتول مه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ.

۱. زه ځان ته په احترام او ځان ته په مینه ورکولو او هر هغه څه چې په ما کې تحول رامنځته کوي، ټینګار کوم.
۲. زه په خپلو احساساتو ډېره ولکه لرم او دا تمرین کوم چې په دې هکله له ځان سره ریښتینی ووسم.
۳. دا چې زه په خپلو پښو دریږم، په خپلو وړتیاوو باندې مې په ژوند کې د ستونزو د مخامخ کیدو پر وړاندې، ډېر ډاډه یم.
۴. زه کوښښ کوم خپل کارونه ترسره کړم او همدارنګه له خپل ځان څخه راضي یم.
۵. په ژوند کې هر څه چې تراوسه راته پیښ شوي دي درس ترې اخلم او کوښښ کوم له خپلو تجربو څخه داسې ګټه واخلم چې په راتلونکي کې مې ژوند ورسره جوړ کړای شم.
۶. پیسې او شتمنۍ مې د اقداماتو په انتظار دي ترڅو خپلواکي شي او زما خواته راشي.
۷. زه هره ورځ د تیرې ورځ په پرتله څخه ډېر خپل ځان ته د الله (جل جلاله) د رحمت باران شاهد یم او هر کار ته چې لاس اچوم په بریالیتوب سره ترسره کیږي.
۸. زه تل مطالعه کوم او نوي موضوعات زده کوم.
۹. زما حافظه د رشد او د ښه والي په حال کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹- با ادب ووسئ.



که مو څوک تحقیر کړل معنی یې دا ده چې خپله بې شخصیته یی.

(هندي ضرب المثل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښ وکړئ د نورو سره د مخامخ کيدو په ترڅ کې باادبه، په ورين تندي او هيله مند ووسئ، خلک زموږ قضاوت زموږ د اړيکو څخه کوي، فلهذا خوش خلق ووسئ او اخلاق مو اصلاح کړئ.

ناروا کارونه مه کوئ ځکه چې په ځان باندې باور مو کمزورۍ کوي.

الله (جل جلاله) په سوره عصر کې د انسان په هکله قسم خوري چې انسان بې له شکه په لوی تاوان او ضرر کې دی؛ مګر هغه کسان چې دا لاندې څلور خصلتونه په ځان کې لري.

- هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی.
- نېک کارونه ترسره کوي.
- يو بل د حق لور ته لارښوونه کوي.
- يو بل صبر او تحمل ته رابولي.

او همدارنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ټول ژوند د ادب پر بنسټ وو او ځان ته يې ادب کړی دی عالم الله (جل جلاله) فرمايي: ادبني ربي فاحسن تاديبي.

حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي: د ادب ښکلا د بدي نسب پټوي. (حسن الادب يستر قبيح النسب)

شعر:

د عقلونو خاوند الله (جل جلاله) په وړاندې د ايمان اصل ادب دی او همدارنګه د خبرو کونکو دنده هم ادب دی، بې ادب ته په آسمانونو کې د پاته کيدو ځای نشته په آسمانونو کې د پاته کيدو ځای د هغو کسانو لپاره دی چې ادب لري د يقين په لار کې د عقل او ادب لمن ونيسه چې ستا د ځان په ګنج باندې به ادب ساتونکی وي. د آدم اولاده که بې ادبه وي هغه آدم ندی، د آدم د زامنو او حيوان تر منځ توپير ادب دی. عاقبت چې هر څه وکړي خواجه پښيمان دی او هغه څه چې دده نه پښيمانه کيږي هغه ادب دی. د عقل نه مې پوښتنه وکړه چې ايمان څه دی؟ عقل د زړه په غوږو کې راته وويل چې ايمان ادب دی. سترګې خلاصې کړه او ووينه د (کلام الله) دا جمله چې وايي: د قرآن آيت په آيت معنی ادب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ.

- له ځان سره دا ژمنه کوم چې:
- دومره به قوي کیږم چې هیڅ شی ونشي کولای د ذهن سکون مې ژوبل کړي.
- په هر بحث کې سلامتي، خوشالي او قوت په خپله ژبه کې جاري ساتم.
- تل د ملګرو وړتیاوې مې دوی ته ښایم.
- د هرڅه هغه مثبت خواته مې پام وي.
- د ښو لپاره فکر کوم، د ښو لپاره کار کوم او یوازې ښه غواړم.
- د نورو په بریالیتوبونو باندې خوشالیږم.
- تیرې تیروتنې مې له یاده ایستلي او د لویو لاسته راوړنو په لور په راتلونکي کې، روان یم.
- ټولو ژوندي موجوداتو ته په خوشالي ګورم.
- د نا آرامي لپاره صبور، د ډار پر وړاندې قوي او د قهر په وړاندې متین یم.
- د ژوند په ټولو برخو کې تل کوښښ کوم او د الله ((جل جلاله)) په رضا باندې راضي یم.
- هرڅه چې الله ((جل جلاله)) راکړي دي څه ډېر وي یا کم د هغو شکر ادا کوم او د الله ((جل جلاله)) څخه نور هم ډېر او ښه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰- تل په شونډو باندې موسکا ولرئ.



یؤه ساده موسکا ډېره غوره ده تر یؤ ګران لباس نه.

(پرمودا باترا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شونډو باندې موسکا درلودل د خوشالۍ او په ځان باندې د باور نښه ده فلهذا تل په شونډو باندې موسکا ولرئ.

موسکا د انسان روحیه لوړوي او د انسان احساس ښه کوي.

الله (جل جلاله) فرمايي: چې د مؤمن خوشالي باید په مخ باندې مالومه شي.

په يؤ قدسي حديث کې راځي: موږ جنت د هغو کسانو لپاره مباح وګرځوو چې د مؤمنانو زړونه خوشالوي.

حضرت علي (کرم الله وجهه) فرمايي: وروسته له روغتيا څخه، موسکا د الله ((جل جلاله)) ډېر لوی نعمت دی.

موسکا په ځان باندې د باور جوته او روښانه نښه، او همدارنګه د روح د روغتيا او د خونديتوب احساس دی.

خپرې کړئ موسکاوې او ورکړئ شيرينيانې، خلک مه لرې کوئ د خپلې خولې څخه په شک سره. (حافظ شيرازي)

بد او نیک دواړه د الله ((جل جلاله)) دي د نر شونډې باید چې په موسکا کې وي (فردوسي)

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- تل د موسکو شونډو په درلودلو سره خوشاله ژوند لرم.
- په ځان باندې باور مې جذاب او محبوب کوي.
- زه په خپل ځواک او وړتیاوو باندې ایمان لرم.
- زه د ځواک، چټکیا او حرکت احساس کوم.
- زه له نورو سره مرسته کوم د هغه څه لپاره چې د لاسته راوړلو هیله یې لري او له دې کار څخه مې راضي یم.
- زه له نورو سره مینه کوم او دا زما د بریالیتوب لامل دی.
- زه په هر حالت او موقعیت چې وم موسکا کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما موسکا په آسانه توګه نور هم خوشالوي او هغوی هم راسره خاندي او پدې سره د ښه والي احساس پیدا کوو.
- په موسکا سره مې نورو ته ښکلا او خوشالي څرګندیږي.
- زه هره ورځ مطالعه کوم.
- زه هره ورځ نوي مطالب زده کوم.
- زه ښکلی یم.
- زه نېکمرغه یم.
- زه ځواکمن یم.
- خیر او خوشالي د ځلورو خواوو ماته راځي.
- الله (جل جلاله) ماته هدایت کوي ترڅو بریالی شم.
- زما خوشالي د الله (جل جلاله) کار دی فلهذا هر څوک نشي کولای چې په هغو کې لاسوهنه وکړي.
- د خوشالي، روغ صحت، ځواکمنتیا او مینې لپاره؛ یؤ تلپاتی کس یم.
- خیر او صلاح مې همدا اوس شکل نیسي.
- په تغییر سره خپلو هیلو ته په آسانۍ رسیږم.
- زه خپل افکارو ته بدلون ورکوم ترڅو خپله نړۍ مې بدلون ومومي.
- زه باور لرم چې الله (جل جلاله) هیڅ کله هم ما یوازې نه پریږدي، فلهذا د ژوند د ښیګڼو په لور روان یم.
- زه مې خپل کوښښ کوم او هرڅه چې د الله ((جل جلاله)) له طرفه ماته ټاکل شوي وي په ټوله مانا سره یې منم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱- د الله ((جل جلاله)) له نعمتونو څخه خوند واخلئ او شکر يې ادا کړئ.



څوک چې د نعمت په ارزښت پوه نشي، په داسې زوال کې به راګير شي چې پوه به هم نشي.

(سری سقطی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځان د الهي نعمتونو څخه مه محروموئ، له نعمتونو نه محرومیدل ذهن ته دا وایي چې تاسو د دې نعمتونو د لیاقت وړ نه یی، فلهذا د تفریح د ځایونونه، د سرګرمۍ ځایونونه او داسې نورو نه ضرور ګټه واخلئ باالخصوص کله چې د هغو په ښه والي باندې ډاډ لرئ او تراوسه مو د یؤ نه یؤ دلیل له کبله مو د هغو څخه ځان محروم کړی دی او همدارنګه کله مو چې د هغو نه ګټه واخیسته نو د الله (جل جلاله) څخه یې شکر ادا کړئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې د الله (جل جلاله) بنده ته بخشش کوي نو د خپلو نعمتونو آثار هغو ته ورښایي. حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي: کله چې د نعمتونو لومړني تاسو ته رسیږي کوښښ وکړئ د شکر په ادا کولو سره نور هم ځانته را خپل کړئ که نه د شکر په نه ایستلو باندې به یې له ځانه لرې کړئ.

د نعمت شـــــکر به دې نـــعمتونه در زیـــات کړي

خو د نعمت کفر به دې، نعمت له ورغویو څخه واخلي.

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- زه د الله (جل جلاله) څخه د ټولو هغو نعمتونو په پار د زړه له تله منته کوم چې ماته یې راکړي دي.
- زه تل عالي روحیه، او د موسکا څخه ډکه خوله او بې نظیر اندامونه لرم.
- زه د ویجاړو زړونو نه، تر ټولو ځواکمنې او جوړونکې تجربې د خپل ژوند جوړولو په پار راباسم.
- زما تن د مثبتو او جوړونکو موجونو څخه ډک دی.
- زه بدلون کوم ترڅو په آسانۍ سره خپلو هیلو ته ورسیږم.
- زه ریښتینی، رښتیاویونکی او امانت داره شخص یم.
- زه د هر ډول شرایطو سره د جوړولو ځواک لرم.
- زه د مطالعې او د نوي مطالبو د زدکړې ځواک لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲- منظم ووسئ.




داسې ووسه چې وکولای شې هرچا ته ووایې: ما غوندې رفتار وکړه.

(ایمانول کانت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقت د نظم پر اساس ولاړ دی او د خلقت په دستګاه کې هره پدیده خپل ځانګړی ځای لري او همدارنګه خپل ځانګړی کار او ماموریت په غاړه لري.
الله ((جل جلاله)) فرمايي: (**انا کل شی خلقنا بقدر**) موږ هرڅه په اندازه او حساب باندې پیدا کړي دي.
د ارواپوهانو په وینا، نظم او ترتیب ته اړتیا، د رواني اړتیاوو اساسي برخه ده. او همدارنګه ژوند ته یو ځانګړی رنګ او شکل ورکوي او په ځان باندې د باور لامل ګرځي.
فلهذا کور او خپل کاري محیط منظم کړئ او هر شی په خپل مناسب ځای کې کیږدئ او دا کار همدا اوس ترسره کړئ.
او همدارنګه په خبرو کې نظم، په لیکلو کې، په ډوډۍ خوړلو کې، په لاره کې، په تللو کې، د ځان په سمبالولو کې، په اړیکو کې او په عبادت کې رامنځته کړئ.
حضرت علي (کرم الله وجهه) د شهادت په کټ په خپل وروستي پیام کې خپل اولادونه او مسلمانان الهي تقوا او په کارونو کې نظم ته را بللي چې فرمايي: ( **أُوصيکُما وَ جَميعَ وُلدي و أهلي وَ مَن بَلَغَهُ کِتابي بِتَقوَی الله و نَظمِ أمرِکُم**)
**ژباړه:** زه، تاسو حسن او حسین او ټولې کورنۍ او اولادونه مې او هر هغه څوک چې لیکنه مې هغو ته رسیږي الهي تقوی او په کارونو کې نظم ته امر کوم.

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- زه ډېر منظم یم.
- زه همدااوس د ځان په پرتله نورو ته هم د بخشش د احساس څخه ډک یم.
- ما د خلکو د آداب او رواجونو د پیدا کولو لپاره طلايي فرصتونه په هر ځای کې پیدا کړي دي.
- مهربانه الله ((جل جلاله)) زما د همیشنۍ او پای نه منونکې روزي ورکونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه رستګار او بریالی یم.
- په وجود کې مې تل د سکون او خلاصون موج جریان لري.
- کله مې چې فکر آرام وي، ډېرې ښې د حل لارې او ښه فکرونه مې سوچ ته راځي.
- زما احساس ډېر ښه دی او د وجود ښکلې پرښته مې د ټولو ناخوالو، منفي فکرونو، دښمنیو، ناتوانیو او ناهیلۍ نه خپلواکه کړې او په بشپړه توګه خپلواک یم دهغه څه لپاره چې د لاسته راوړو هیله یې لرم.
- هره ورځ د زدکړې ځواک مې زیاتیږي، حافظه مې زیاتوالی مومي او دا زما د سعادت لامل ګرځي.
- هره ورځ د تیرې ورځې په پرتله ډېره مطالعه کوم او څه زده کوم.
- زه تل کوښښ کوم او د الله (جل جلاله) په رضا باندې راضي او خوښ یم.
- زه تل د الله (جل جلاله) څخه د هغو نعمتونو چې ماته یې راکړي دي، شکر ادا کوم.
- د هغو کسانو څخه چې ما سره یې مرسته کړې ده منته کوم او د دوی لپاره د الله له درباره د مغفرت غوښتنه کوم.
- زه له خپلې کورنۍ سره مې مینه لرم.
- زه له ټولو خلکو سره مینه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳- خپل ځان له نورو سره مه پرتله کوئ.



ددې پر ځای چې په تیارو باندې لعنت ووایئ، یؤ شمع ولګوئ.

(کنفسیوس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقيقت کې ځان له نورو سره پرتله کول يؤ ډول ناروغي او ضعف دی؛ ځکه چې له نورو سره د پرتلې په ترڅ کې، خپل ځان ناتوان احساس کوئ.

په ځان باندې باور دا دی چې ځان کم احساس نکړئ او د پرتلې کلمه د خپل ذهن نه لرې کړئ او تل په دې فکر کې ووسئ چې څرنګه کولای شئ چې ښه پر مخ لاړ شئ.

د ګيلو څخه ځان وساتئ لکه: زه چاغ يم، زه ډېر ډنګر يم، ای کاش ونه مې لږ لوړه وای، ای کاش ونه مې کوچنۍ وای، ای کاش ويښتان مې پيچلي وای، ای کاش ويښتان مې صاف وای، ای کاش پزه مې کوچنۍ وای، ای کاش د ځان عضلې مې غټې وای او داسې په زرګونو نور...

د کاشکې لفظ نور پرېږدئ او څرنګه چې ياستی له خپل ځان سره مينه ولرئ او کوم يؤ چې د اصلاح وړ وي هغه اصلاح کړئ او کوښښ وکړئ د خپل ځان منځنۍ ښکلا زياته کړئ.

په ياد ولرئ چې انسان د الله (جل جلاله) تر ټولو ښکلی مخلوق دی لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) فرمايي: **(لَقَد خَلَقنَا الانسانَ فِي أَحسَنِ تَقوِيمِ التين: ۴)**

شته معشوقه پټه په زړه کې دې          سترګې که لرې راشه دروېښيم

تل په خپلو ښکلاګانو باندې تمرکز وکړئ او همدا اوس هره ښکلا چې په خپل ځان کې لرئ، د کاغذ پر مخ يې وليکه او د الله (جل جلاله) شکر پرې ادا کړه.

۱-.................................

۲-.................................

۳-.................................

۴-.................................

۵-................................

۶-................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- لکه څرنګه چې د ګوتو خطونه مې له نورو انسانانو سره توپير کوي، همداسې وړتياوې مې هم توپير کوي او تل کوښښ کوم چې تر ټولو غوره ووسم.
- الله (جل جلاله) ماته نژدې دی او له ما څخه ملاتړ کوي.
- زما کور او د کار ځای د مينې او محبت کانون دی.
- د الله ((جل جلاله)) نعمتونه د ټولو لپاره ډېر دي.
- تل د خپل روحيې او سلامت په ساتنه کې يم.
- الله ((جل جلاله)) د مينې طلوع دی او زما سره مينه لري.
- زه روښانه او ځليدونکې راتلونکې لرم.
- زه تل د خلکو پر پرمختګ او آرامۍ باندې خوشاليږم.
- زه د خپل ښه راتلونکي په انتظار باندې مې باور او ايمان لرم.
- د ژوند تجربې مې د لويو برياليتوبونو په لور رهنمايي کوي.
- الله ((جل جلاله)) کاينات زما د ارادې په لور هماهنګ کوي.
- زه تل مطالعه کوم او خوند ترې اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴- خپل بدني حالت ته پام وکړئ.



په هر عمر کې چې یاستی، څه زوړ او څه ځوان، کولای شئ چې خپل ځان ته بدلون ورکړئ.

(استیوچندلر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان بدني حالت د هغو د شخصیت او په ځان باندې د باور ښکارندویي کوي.
هغه انسانان چې په ځان باندې لوړ باور لري قوي او په انرژۍ سره ډېري، لوړ ګامونه اخلي او په چټکۍ سره پر مخ ځي، اوږې يې شاته وتلې دي او سر يې پورته ساتلی او د مقابل کس سترګو ته ګوري او په کلکه لاس ورکوي.
په لوړ او خوشحاله غږ غږیږي. ورين تندی لري په حوصله او انرژۍ باندې د هر کار د ترسره کولو لپاره آماده وي، قوي ډېري او لوړه روحيه لري او له نورو سره په آسانۍ اړيکه ټينګوي.
مګر هغه انسانان چې په ځان باندې لوړ باور نلري د نورو سره د لومړۍ ليدنې په ترڅ کې د اړيکې د مخنوي لامل ګرځي چې د هغې لاملونه په لاندې ډول دي: د سر د ويښتانو ښورول، د شونډو د عصبي خنډو چيچل، د سترګو له اړيکې نه تيښته، ناسم دريدل، له اندازې نه زيات د سترګو بنېکې وهل، او ظاهر کې يۆ ډول بدلون راوستل او داسې نور... فلهذا له نن څخه وروسته ۲۵ فيصده په لوړ آواز خبرې وکړئ او ۲۵ فيصده په لاره چټک لاړ شئ  او ځانګړي حرکتونه ترسره کړئ چې دا ټول په لوړه سطحه  په ځان باندې د باور ښکارندويي کوي.

د غم، ډار او وسواس څخه ځان خلاص کړه
او پوخ لـــــکه تيږه شه الـمـــــــاس اوسه.

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- هر ځای مې الله (جل جلاله) ملګری او ساتونکی  دی.
- موسکا زما څيره ډېره ښايسته کوي.
- تل په خپل ذهن کې د نعمتونو او زياتوالي انځور رسموم.
- د نوښت ځواک مې تل نوي فکرونه او نوښتونه ذهن ته راليږي.
- زه د ژوند د ښه والي لپاره د نويو لارو منونکی يم.
- تل دخپل  لاشعور ضمير لپاره د خوشالي او هيلو نقش اچوم.
- زه د خپل پای نه منونکي فکر او د الله (جل جلاله) څخه مرسته غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما لا شعور فکر د ټولو مسایلو ځواب لري.
- د هرڅه په هکله چې فکر وکړم په خپل ژوند کې يې منځ ته راوړم.
- زه په ډاډ سره د هر لوړ موقعيت لپاره وړتيا لرم.
- ورځ په ورځ په خپل ځان او روح باندې لا ډېره ولکه پيدا کوم.
- زه همدا اوس د هر بل وخت څخه په پرتله د خوشبختۍ احساس کوم.
- زه په بشپړه توګه د ښه نيت او ښه اخلاقو خاوند کس يم.
- زه يؤ ځواکمن کس يم.
- پيسې او شتمنۍ د حرکت په حال کې زما خواته راځي.
- زه يؤ هوښيار کس يم او نه پرېږدم څوک ماته دوکه راکړي.
- خير او خوشالي له ځلورو خواوو زما لور ته راځي.
- الله (جل جلاله) ماته هدايت کوي ترڅو بريالی شم.
- زما خوشالي د الله (جل جلاله) کاردی هيڅوک په هغو کې لاسوهنه نشي کولای.
- د خوشالي، روغتيا، ځواکمنتيا او مينې لپاره ثابت سړی يم.
- خير او نيک کارونه مې همدا اوس هم حقيقت پيدا کوي.
- په بدلون سره، خپلو هيلو ته په آسانه رسيدلای شم.
- زه مې خپل افکارو ته بدلون ورکوم ترڅو چې خپلې نړۍ ته بدلون ورکړم.
- زه باور لرم چې الله (جل جلاله) ما هيڅ وخت يوازې نه پرېږدي، فلهذا د خپل ژوند د ښيګڼو پسې روان يم.
- زه مې خپل کوښښ کوم او هرڅه چې د الله ((جل جلاله)) له طرفه ماته ټاکل شوي وي په ټوله مانا سره يې منم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵- خپلې روغتيا او سلامتي ته مو پام وکړئ.



سلامتي؛ د خوشبختي، ځواک او ښې روحيې بنسټ دی.

(بنيامين ډېزرائيلي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو په ځان باندې باور تر ډېره بریده ستاسو د بدن او روح په روغتیا پورې ربط لري.

ستاسو د سلامتي شرط ستاسو روح او ذهن ته خلاصون ورکوي او همدارنګه هر هغه څه چې ستاسو ذهن يې په يؤ ډول مصروف کړی او ستاسو احساسات او عواطف يې تړلي دي، ځان ترې خپلواک کړئ.

ستاسو د روغتيا شرط ورزش کول، ور د ډوډۍ رژيم، او د ځان ساتنه دی.

په اسلام کې، د صحت د ساتنې او د بدن د ځواکمنتيا په هکله ډېر حديثونه او د دين د عالمانو لارښوونو څخه يادونه شوې ده چې د هغو له ډلې لاندې لارښوونو ته اشاره کوو.

**(الصحت افضل النعم)** روغتيا او سلامتي د هر بل نعمت څخه غوره او ګټور دی.

(و ان لبدنک عليک حقا) پرته له شکه ستا بدن په تا باندې ځينې حقوق لري چې بايد ضرور يې ترسره کړې.

**(المومن القوی خير و احب من المومن الضعيف)** هغه مؤمن چې قوي او ځواکمن وي زما په نظر د هغه مؤمن نه چې ضعيف وي، غوره او خوښېدونکی دی.

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- زه د خپل راتلونکي نېکمرغي په خپل مخه کې وينم.
- زه هيڅکله ځان له نورو سره نه پرتله کوم او په دې باندې باور لرم چې د نورو په پرتله ډېر د پورته تللو ځواک لرم.
- زه په ځان باندې وياړم، په هغه څه چې يم او په هغه څه چې به وم.
- الله (جل جلاله) زما د ځان مؤنس دی او ما د خپل ځان هيلو ته رسوي.
- زه د نړۍ سره د سولې او پخلاينې په حالت کې ژوند کوم.
- زه د خپلو احساساتو سره په اړيکه کې يم او هغه منم.
- زما په ځنګ کې د مينې څخه ډک او با مسؤليت کسان شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه له نورو سره مینه لرم او هغوی ته ارزښت ورکوم او دا زموږ ترمنځ د تلپاتې دوستۍ لامل ګرځیدلی دي.
- زه په خپل ځان باندې باور لرم او دا عقیده لرم چې ما سمې لارې ته لارښوونه کوي.
- هره ورځ، هر کار مې چې په وس کې کیږي، ترسره کوم یې ترڅو ځان او خپلو اطرافیانو ته د مینې فضا رامنځ ته کړم.
- د مینې ترڅنګ د ټولې نړۍ سره وصل یم.
- منځنۍ لید مې تل روښانه او متمرکز دی.
- زه دا ځواک لرم چې خپله روغتیا کنترول کړم.
- زه د حیاتي ځواک او روغتیا سره مل یم.
- زه د خپل ځان په هره برخه کې روغتیا لرم.
- زه تل دا ځواک لرم چې خپل د خوښې وزن ولرم.
- د ورځنیو کارونو د ترسره کولو لپاره د انرژۍ ډخه ډک یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶- خپل ځان تحسین او وهڅوئ.



په ورځ کې یؤ نیک کار ترسره کړئ او د ښه کار د ترسره کولو څخه وروسته موسکا وکړئ او همدارنگه د نورو د موسکا شاهد ووسئ.

(دېل کارنگي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان د کوچني کار په خاطر هم چې ترسره کوی یې، خپل ځان تحسین او وهڅوئ. کله مو چې ښه او په ښه توګه کار ترسره کړ ځان ته چک چکې وکړئ او خپل ځان ته شاباسۍ  ووایئ دا ځکه چې د همدې ساده کارونو ترسره کول ستاسو په ځان باندې باور ته چټک والی ورکوي. هیڅ یؤ مثبت کار مو بې ارزښت او کوچنی مه ګنئ.

الله (جل جلاله) فرمایلي دي چې زموږ ښېګنې که ذره هم وي پاداش ورکوي او د الله (جل جلاله) په لار کې د نیکو کارانونو اجر یا ثواب ضایع کیږي نه.

که نیکو کارونو ته د الله (جل جلاله) پام او هغو ته پاداش ورکول د الله (جل جلاله) روش او لاره ده، موږ هم چې د الله (جل جلاله) ځایناستي په ځمکه کې یوو، باید له دې روش او لارې څخه اطاعت وکړو.

فلهذا هیڅ یؤ خپل نیک کارونه بې اجر مه پرېږدئ؛ حتا که په تحسیني، ذهني او که په ظاهري  موسکا هم کیږي خپل ځان تشویق کړئ.

تر څنګ یې نور کسان هم د هغوی د ښه کارونو په ترڅ کې وهڅوو او د خپلو ښکلاګانو او ښېګنو یې  ورته یادونه وکړو.

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- زما ذهن په سوله او امن کې دی.
- زه مې له خپل بدن سره مینه لرم او هغه ته ارزښت ورکوم او همدارنګه بدن مې هم ماته ارزښت راکوي.
- هر کار ته چې لاس اچوم بریالۍ کیږم.
- په هر څه چې لاس کېږدم ډېروالی او شتمني راته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۷- خپل علمي کچه لوړه کړئ.



د انسان ښایست په دریو شیانو کې دی: علم، محبت او خپلواکي کې.

(افلاطون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل خپله علمي کچه لوړه کړئ او هره ورځ یوه نوې علمي موضوع زده کړئ، د هرې لارې چې امکان ولري؛ د نوي کتاب مطالعه کول، د علمي صنفونو تعقیبول او یا دعلمي کنفرانسونو تعقیبول. د علم زده کړه ستاسو په ځان باندې د باور د لوړوالي، روحیې او شخصیت لامل ګرځي. لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) فرمايي: **(يَرفَعِ اللهُ الّذِينَ آمَنُو مِنكُم وَالَّذِينَ أُوتُو العِلمَ دَرَجات.) ژباړه:** الله (جل جلاله) ستاسو نه د هغه چا چې ایمان او علم لري درجه لوړوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم په هکله فرمايلي دي: علم زده کړی چې زده کړه یې نیک کار دی، خبرې اترې یې په هکله د الله (جل جلاله) تسبیح دي، بحث او څیړنه په هکله یې جهاد حسابیږي، زده کړه هغه چا ته چې نه پوهیږي صدقه حسابیږي، بذل او بښنه دهغو اهل ته الله (جل جلاله) ته د نږدې والي لامل ګرځي، ځکه چې د پيژندنې اصل حلال او حرام دي او محصل د جنت لارې ته لارښود کوي او د ډار او یوازیتوب څخه یې خلاصوي او په غربت کې د هغو لاس نیوي لامل ګرځي. فلهذا زده کړه او په هر څه باندې پوهیدل د خپل ځان په عادت باندې بدل کړئ او په هر کاري ساحه کې خپل تجربه او پوهه نسبت تر نورو لوړه کړئ او تر ټولو ښه ووسئ.

میاسای ز آموختن یکـــــــــزمان
ز دانش میفگن دل اندر گـــمان
زمانی میاسای ز آمـــــــــوختن
اگر جان همی خواهی افروختن
به آمـوختن گر ببندی مــــــیان
ز دانش روی بر سپهــــــر روان

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- ای الله (جل جلاله) زما علم زیات کړې.
- الله (جل جلاله) هر ځای زما ساتونکی او ژغورونکی دی.
- موسکا زما څیره ښایسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه د صداقت او صمیمیت له کبله د نورو په وړاندې محبوب یم.
- نرمښت د بریالیتوب کلی ده.
- زه منظم انسان یم.
- زه د خپلې کورنۍ سره تل مینه کوم.
- زه د ټولو انسانانو سره مینه لرم.
- زه په مینه سره ژوند کوم.
- زه په هر حالت کې مې خپل سکون ساتم.
- زه ډېر ځواک لرم او هر کار ته چې اراده وکړم ترسره کوم یې.
- زه په خپل ځان باندې هم پوره باور لرم او همدارنګه په خپل ځواک باندې هم په بشپړه توګه باور لرم.
- ما خپل ذهن د تیرو پیښو څخه خلاص کړی دی.
- زما کار تل مثبت انګیرل کیږي.
- زه خپلو وړتیاوو ته احترام کوم او تل په ډېره انرژي باندې کار کوم.
- زما عاید تل زیاتیږي.
- د خپلو اړتیاوو لپاره تل پوره پیسې په لاس کې لرم.
- د ټولو کارونو چې ترسره کوم یې، بدله راته رارسیږي.
- زه د الله (جل جلاله) د اوامرو اطاعت کوم.
- هر څه ته مې چې اړتیا پیښه شي د الله (جل جلاله) څخه یې غواړم.
- هر څه چې الله (جل جلاله) راته راکوي، زما د خیر او کامیابي لپاره وي.
- هره ورځ نوي شیان زده کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۸- د لوبو سامان مه جوړيږئ او په کلکه سره، نه ووایاست.



زه په هیڅ وجه اجازه نه ورکوم چې شرایط مې ناهیلې کړي. او درې شیان د یؤ با ارزښته هدف لپاره اړین دي چې عبارت دي له: کار، استقامت او سلیم عقل څخه.

( توماس ادیسون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوبو سامان کیدلو په وخت کې ، په کلکه سره باید منفی ځواب ورکړئ.

د لوبو سامان کیدل؛ یعنې ستاسو د خپل وجدان او عقلاني ځواک خلاف عمل کول چې وروسته په تاسو کې د ګناه احساس رامنځ کړي او تاسو ستړي، زاړه او عصبي کوي.

فلهذا تل تمرین وکړئ، هغه کارونه چې پوهیږئ غلط دي، نه غواړئ تر سره یې کړئ خو ستاسو له خوا ترسره کیږي؛ هغو ته نه وواياست او په ځان باندې باور مو لوړ کړئ. تاسو د الله ج خلیفه د ځمکې په سر یاستی، تل له خپلو ښو آندونو څخه مو دفاع وکړئ او ښه کارونه ترسره کړئ او له چا څخه خجالت کیږی مه. ( **وَ اذ قَالَ رَبّکَ لِلمَلَائِکَةِ انّي جَاعِلُ فِي الأرضِ خَلِیفَةً)**

برون از سینه کــــــــش تکبیر خود را

به خــــــاک خویش زن اکسیر خود را

خودی را گیر و محکـم گیر و خوش زی

مده در دست کس تقدیر خـــــــود را

مهرباني وکړئ لاندې جملې تکرار کړئ:

- ما خپل د بریالیتوب او جدیت عامل پیدا کړی.
- زما لا شعور ذهن هره شېبه زما فرمان ته غوږ دی، نو تل د خوشالي او هیله لرونکي پیامونه ورته لیږم.
- زه تل په هیله او خوښي سره خبري کوم.
- زما په موسکا کې ډېر مثبت ځواک پروت دی چې مخاطب کس ته زما د خوشالي حالت بیانوي او د هغو باور په نا غوښتلې توګه را خپلوي.
- زه تل په خپله کورنۍ باندې مې ویاړ کوم.
- زه مې د خپلې کورنۍ سره ډېره مینه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما ژوند د مینې او محبت نه ډک دی او د ژوند هره شیبه مې په سکون او محبت سره تیریږي.
- زه مې د خپلې کورنۍ لپاره د ویاړ لامل یم.
- زه د نورو سره د یو ځای کیدو لپاره تیار یم.
- زه کولای شم هره ورځ په ځان باندې باور مې زیات کړم.
- زه په خپل ځواک او وړتیاوو باندې مې باور لرم.
- زه د ځواک، حرکت او سرعت احساس کوم.
- زما په ځان باندې باور، زما د محبوبیت او جذابیت لامل ګرځي.
- زه مې د ژوند ټول امتحانونه د الله (جل جلاله) په توکل په آرام او مطمئن زړه باندې تېروم.
- یا الله! زما علم زیات کړې.
- هرچېرې الله (جل جلاله) زما ملګری او ساتونکی دی.
- موسکا زما څېره ښایسته کوي.
- زه په صداقت او صمیمیت د نورو په وړاندې محبوب کیږم.
- نرمښت زما د بریالیتوب کلي ده.
- زه یو منظم انسان یم.
- زه مې تل له خپلې کورنۍ سره مینه کوم.
- زه د ټولو انسانانو په پرتله مینه لرم.
- زه د ژوند سره مینه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۹- له نورو سره مرسته وکړئ.



څوک چې د نورو د خیر باعث ګرځي، د خپل خیر باعث هم ګرځي.
(کنفسیوس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځان باندې د باور لوړولو لپاره یو عملي اقدام، وروسته له ځان ته د پاملرنې کولو څخه، له نورو سره مرسته کول دي. د خپل ژوند په برنامه کې حتما یو څه وخت کورنۍ ته هم ځانګړی کړئ او مسوولیت او څېنې وظایف ومنئ او څېنې هم نورو ته ځانګړې کړئ.

تل په ریښتینې او موثره توګه مرسته او بخشش وکړئ؛ یعنې سربېره پر دې چې یو وړې ته کب ورکوی، کبان نیول هم ور زده کړئ ترڅو چې په تاسو باندې ونه تړل شي او په راتلونکې کې وکولای شي خپله اړتیا پخپله پوره کړي.

باید یادونه وکړو چې مرسته او بخشش له نورو سره ددې لامل کیږي ترڅو الله ((جل جلاله)) خپل نعمتونه پر موږ باندې زیات کړي.

لکه چې الله (جل جلاله) فرمایي: **(مَن ذَا الَّذِی یُقرِضُ اللهَ قَرضًا حَسَنًا فَیُضعِفُهُ لَهُ اَضعَافًا کَثِیرَةً.)** ژباړه: څوک دی هغه کس چې الله ته قرض ورکوي، قرض حسنه، نو هغه الله به د هغه لپاره دا (قرض) زیات کړي په ډېرو زیاتولو سره.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: **(الصدقه تدفع البلاء المبرم قذاوو امر ضاکم بالصدقة)** صدقه د بلاګانو اور مړ کوي.

مهرباني وکړئ لاندې تمرینونه ترسره کړئ.

- کله چې د لومړۍ ځل لپاره د چا سره لیدنه کوی، د هغو سترګو ته وګورئ، خپل نوم په وضاحت سره ورته ووایئ او په کلکه سره لاس ورکړئ.
- هر چېرته چې ځی ګمان مو باید دا وي چې بریالي کیږی او هیله ولرئ چې د نورو د مینې او پام وړ وګرځئ.
- ژوند مو په خپلو الفاظو تعریف کړئ او تل د هر څومره ښه کس په توګه چې کولای شی ووسئ، ژوند وکړئ.
- په خلکو کې مو خپل آندونه وړاندې کړئ.
- تل ژورې ساګانې وکاږئ.
- خپل اضافي کالي او شیان مو اړمنو کسانو ته ورکړئ.
- له خپل ذهن نه مو ډېر کار واخلئ ترڅو چې قوي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه کار چې د ترسره کولو ارزښت لري، نو پيل يې کړئ.
- نور کسان د خپل ځان په پرتله ډېر لوړ او مهم مه ګڼئ.
- دا خيال مو له ذهن څخه لرې کړئ چې ګواکې ټول تاسو ته پام کوي ترڅو منفي ټکي مو پيدا کړي.
- په ياد يې ولرئ:
- هر کار چې نورو ترسره کړی وي تاسو يې هم کولای شئ چې ترسره يې کړئ شرط دا چې په کلکه يې غوښتونکي ووسئ.
- هيڅوک ستاسو څخه ښه نه دي يوازې ځينې خلک په ځينو خصوصي برخو کې ستاسو په پرتله ښه روزل شوي او ډېرې زده کړې يې ترلاسه کړې دي.
- هيڅ داسې ستونزه نشته چې تاسو يې د حلولو توان ونه لری، هيڅ داسې خنډ نشته چې تاسو يې د لمنځه وړلو توان ونلری او هيڅ داسې هدف نشته چې تاسو يې د رسيدلو توان ونلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۰- ټول انسانان وبښئ.



بښنه له باران او لمر څخه زده کړئ؛ چې په ټولو یو شان ورېږي او لوېږي.

(کانت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو په بښنې سره خپل روح خپلواکه کړئ.
ځوک چې په ځان باندې د پوره باور خاوند وي لوی، غني او خپلواکه روح لري. هرډول ذهني، جسمي او روحي تړاو د انسان د کوچینوالي لامل گرځي، يو له مهمو شيانو چې ذهني او عاطفي تړاو رامنځته کوي او د غنامندي او د روح د خپلواکي د منع کيدلو لامل گرځي، هغه د نورو نه بښل دي.
هر چا چې ستاسو سره بد کړي دي پر ځای ددې چې خپل روح ته آزار او کينه ورکړی، ځان په بې پامۍ مصروف کړی او په خپل ځان باندې د باور بوټی لرې کړی، نو هغه وبښئ او آزاد يې کړئ او حتی هغو ته د خير او د هدايت غوښتنه وکړئ. ترڅو ستاسو روح لوی او غني شي، خپل ځان هم وبښئ او د گناه احساس نه هم ځان آزاد کړئ.
الله (جل جلاله) فرمايي: **(قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَّ مَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِن صَدَقَةٍ يَّتبَعُهَا اَذًى وَاللهُ غَنىٌ حَلِيمٌ)** ژباړه: ښه خبره کول، او بخښنه کول، ډېر غوره دي له هغه خيرات نه چې په هغه پسې تکليف (تنگول) راځي، او الله ډېر بې پروا، ډېر تحمل والا دی.
حضرت رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايي: ( من کثر عفوه مد فی عمره)
د چا چې گذشت ډېر وي، عمر يې ډېرېږي.
مهرباني وکړئ لاندې ټکي په ياد ولرئ:

- په ځان باندې باور د لويو برياليتوبونو او برياوو بنسټ دی.
- هغه انسانان چې په ځان باندې باور لري لومړی فکر کوي، پريکړه کوي او وروسته عمل کوي.
- د وړتياوو او يا د مناسبو شرايطو نه درلودل د پرمختگ خنډ نه گرځي، واقعي خنډ په ځان باندې باور نه درلودل دی.
- تاسو د کارونو په ترسره کولو کې هيڅ ډول د وړتياوو محدوديت نلری، پرته له هغو محدوديتونو څخه چې خپله يې په خپل ذهن کې رامنځته کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پە ځان باندې باور یو عادت دی چې د هغو د لوییدلو لپاره داسې عمل وکړئ، چې غوښتونکي یې یاست.
- لویې هیلې ولرئ او یوازې لویې هیلې کولای شي ستاسو روحیه او ذهن فعاله وساتي.
- د زړورتیا پە منځ کې؛ نبوغ او جادویي ځواک پروت دی.
- خپل بې ساری راتلونکی لە ټولو جزئیات سره پە خپل ذهن کې وکاږئ.
- راتلونکی د هغو کسانو لپاره دی چې د هغو غوښتونکي وي، فلهذا د نن ورځې ځخه پریکړه وکړئ او هر هغه څه چې پە ژوند کې یې هیله لرئ، وغواړئ.
- تاسو تل پە دې کە چې کوم کار ډېر، کوم کار لږ او کوم کار چې اصلا یې نە ترسره کوی خپلواک یئ.
- د ژوند پە هر ډګر کې د ښه والي پە هکله فکر وکړئ او هیڅکله د هغو د لاسته لاوړلو لپاره د هیڅ ډول کوښښ او زیار ځخه مخ مه اړوئ.
- د هر کار سره چې مینه لری ترسره یې کړئ او پە هغه کار کې د ښه والي لپاره ډېر کوښښ وکړئ.
- پە غونډو کې پە لومړي قطار کی کینئ.
- خپل کارونه مه ځندوئ.
- د بریالیتوب د لاسته راوړلو پە لټه ووسئ.
- د خپل راتلونکي لپاره هدف جوړ کړئ او همدااوس مو پنځه اړین اهداف پە ترتیب سره ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ...............................

۲- ...............................

۳- ...............................

۴- ...............................

۵- ...............................

- تل په خپل جیب کې یو څه پیسې ولرئ.
- په خپل ځان باندې برلاسې ووسئ او مه غوسه کیږئ.
- ځان په نورو باندې مه ترئ.
- ځوک مه تحقیروئ.
- هره اونۍ یو له دې لاندو ځانګرتیاوو څخه وټاکئ او تکرار یې کړئ.
- زه خوشحاله انسان یم.
- زه هوښیار انسان یم.
- زه شکرګزار انسان یم.
- زه فکر لرونکی انسان یم.
- زه توکل کونکی انسان یم.
- زه صبر کونکی انسان یم.
- زه منظم انسان یم.
- زه متواضع انسان یم.
- زه تعادل لرونکی انسان یم.
- د خپل ذهن له فرهنګ نه منفي کلمې لرې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بهانې او عذرونه مه کوئ.
- د رهبرۍ احساس ولرئ.
- نورو ته احترام کوئ.
- ګونګې خبرې مه کوئ.
- د الله (جل جلاله) څخه د هدایت غوښتنه وکړئ.
- په خپلو وعدو باندې عمل وکړئ.
- د خپل ځان لپاره مثبت او انرژي لرونکې خبرې جوړې کړئ او تل هغه تکرار کړئ.
- هره شپه د خوب په وخت کې لاندې پوښتنې له ځانه وپوښتئ او ځواب ورکړئ.
- نن مې کوم ښه کارونه ترسره کړل؟
- نن مې کومې غلطیانې ترسره کړې؟
- څنګه کولای شم ښه ووسم؟
- سباته کوم کارونه باید ترسره کړم؟
- سباته مې کوم کارونه په لومړیتوب کې دي؟

زحمت کښه اوسئ او ډېر کوښښ وکړئ.

الله (جل جلاله) هغه ملت ته سروري ورکړه چې خپل تقدیر یې، خپله ولیکه او د هغه ملت سره کار نلري، چې بزګر یې د نورو لپاره کښت کوي.

اقبال لاهوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهنگی بچه خود را چه خوش گفت

به دین ما حـــــــــرام آمد کرانه

به موج آویز و از ســـاحل بپرهیز

هـــــــــمه دریاست ما را آشیانه

اقبال

در صلابت آبروی زنـــــدگی است

ناتوانی ناکسی ناپختـــــگی است

اقبال

ساحل دل خسته گفت: گر چه بسی زیستم

هیچ نه معلوم شد آه که من کـــــــیستم

موج ز خود رسته ای تیز خرامید و گـــفت

هستم اگر می روم، گر نروم نـــــــیستم

ما زنده از آنیم که آرام نـــــــــگیریم

موجیم که آسودگی ما عـــــــدم ماست

تن مرد مســـلمان پـــــــــایدار است

بنای پیـــــــــکر او اســـــــتوار است

طبیب نـــــکته رس دید از نـــگاهش

خودی اندر وجودش رعــــــشه دار است

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبای زنـــــــــده گانی چاک تا کی
چو موران زیـــــستن در خاک تا کی
به پرواز آی و شـــــــــاهینی بیاموز
تلاش دانه در خـــــــــــاشاک تا کی
اقبال

قومی به جد و جهد گرفتند وصل دوست
قومی دیگر حواله به تقـــــدیر می کنند

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاهین و ماهی

مـــاهی بچه ای شوخ به شاهین بچه ای گفت
این سلسله ی مـــــوج که بینی همه دریاست
دارای نهنــــگان خروشنده تـــــر از مــــیغ
در سینه ی او دیـــــده و نادیده بــــلاهاست
با سیل گران سنگ و زمین گیر و سبک خــــیز
با گـــــوهر تـــابنده و با لؤلؤی لالاســـــــت
بیرون نتوان رفت ز سیل هـــــــمه گـــــیرش
بالای سر مـــاست ته پاست همه جـــــــاست
هر لحظه جوان است و روان است و دوان است
از گردش ایام نه افـــزون شد و نی کـــــــاست
مــــــاهی بچه را سوز سخن چهره بر افروخت
شاهین بچه خندید و ز ساحل به هوا خـــاست
زد بانگ که شاهینم و کارم به زمــــین چیست
صحراست که دریاست ته بال و پر مـــــــاست
بگذر ز سر آب و به پهنای هوا ســـــــــــــاز
این نکته نبیند مـــــــگر آن دیـــده که بیناست

اقبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کتاب تل له ځانه سره ولرئ او هر وخت مو چې فرصت پیدا کړ، اصول او مثبتې جملې یې تکرار کړئ.

دا تمرین نورو ته هـــــم ور زده کړئ:

پیکر هستــــــــی ز آثار خودی است

هر چه می بینی ز اسرار خودی است

خویشتن را چون خودی بیدار کــــرد

آدمی دیده است باقــی پوست است

دید آن باشـــد که دید دوست است

مبارک دې شه ملګریه ته اوس په ځان باندې د لوړ باور، خاوند یې!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادداشت:

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**